مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۱/۱۲/۲۹

# نظم

خپلو سوالونو ته ځواب غواړمه
له وحشتونو نه حساب غواړمه
په ښاړو دښتو کروندې کومه
شم به مالیار ژوند ته ګلاب غواړمه

زخمي بدن ته به درمان جوړېږم
ورو، ورو به ګورې چې کاروان جوړېږم
تورو تیارو ته زه آفتاب غواړمه
شم به مالیار ژوند ته ګلاب غواړمه

مونږه په چا باندې باور نه لرو
خاورې ساتنې ته عسکر نه لرو
د پښتنو لاس کښې رباب غواړمه
شم به مالیار ژوند ته ګلاب غواړمه

پردی ملهم د بل ټکور نه غواړم
د ورور وژنې بل پیغور نه غواړم
خپل دښمنانو ته عذاب غواړمه
شم به مالیار ژوند ته ګلاب غواړمه

مصطفی پسرلی
28/Dec/2021



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ